


# آب

خپرونکی ارگان: د اوبو چارو د تنظیم ملي اداره

شماره هفتاد و سوم / ثور ۱۴۰۰ April - May 2021


## د ۴۲ بندونو د جوړولو قرارداد لاسلیک او د اوبو لگولو کانالونو دوه لویې پروژې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې



**دغه بندونه د جمهوري ریاست عالي مقام د هدایت په اساس د اوبو مدیریت، موسمي سیلابونو کنټرول، بریښنا تولید او خلکو ته د کار پیدا کولو په موخه د هېواد په ۲۱ ولایتونو کې جوړېږي.**

**جلسه هماهنگی در مورد حل مشکلات استملاک و تصفیه پروژه‌های اداره ملی تنظیم امور آب ...**

ص ۸



**په ننگرهار ولایت کې به د ۳ لویو بندونو تر څنگ د ٦٥ پروژو چارې پیل شي**

ص ۶



**د هریرود مرغاب سیندیزه حوزه کې د غیر متمرکز ککړو اوبو(فاضلاب) تصفیه خونې جوړولو هوکړه لیک لاسلیک شو**

ص ۵



# د ۴۲ بندونو د جوړولو قرارداد لاسلیک او د اوبو لګولو کانالونو دوه لویې پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.



د هېواد جمهور رئیس جلالتمآب محمد اشرف غني په حضور کې د ۱۰۰ ورځو او ۱۰۰ زېرو په پروګرام کې چې په ارګ ماڼۍ کې جوړه شوی وه، د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل لخوا په ۲۱ ولایتونو کې د ۴۲ بندونو د جوړولو قرارداد لاسلیک شو، همدارنګه په دغه برنامه کې د اوبو لګولو دوه لویو کانالونو او سربندونو پروژو (ارچي او شهروان) چې په کندز او تخار ولایتونو کې موقعیت لري ګټه اخیستنې ته وسپارل شول.

یاد بندونه د جمهوري ریاست عالي مقام د هدایت په اساس د اوبو مدیریت، د موسمي سیلابونو کنټرول، بریښنا تولید او خلکو ته د کار پیدا کولو په موخه د هېواد په ۲۱ بېلابېلو ولایتونو کې جوړیږي.

په یاد پروګرام کې د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل وویل:" د اقلیم تغیر او پرلپسې وچکالي په نړیواله کچه یوه لویه اقتصادي او اجتماعي ننګونه بدل شوې ده؛ اړینه ده تر څو زموږ اوبه په اساسي توګه مدیریت شي. "ښاغلي تکل زیاته کړه" اوبه زموږ ابرو ده او موږ یې مدیریت ته ژمن یو."

همدارنګه د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس د شاه و عروس بند د ساختماني چارو د بشپړېدو خبر ورکړ او زیاته یې کړه د دغه ۴۲ بندونو چارې به ژر پیل شي؛ همدارنګه نوموړي زیاته کړه د اوبو چارو د تنظیم ملي اداره به په روان کال کې د لویو پروژو په تطبیق په ځانګړي ډول: د شاه توت للندر بند، د کابل پنجشیر پایپ لاین، د سپین غر او تور غر پروژو، د پروان ولایت سیلبرونو، د دهله بند، د بخش اباد بند او په سلګونو نورو لویو متوسطو او کوچنیو پروژو کار کوي چې اوسمهال د زیات شمېر پروژو چارې په ښه توګه روانې دي.

د یادونې وړ ده چې د دغه ۴۲ بندونو په جوړولو سره به ټول ټال ۱ میلیارد او ۲۰۳ میلیونه متر مکعب اوبه ذخیره کیږي د ۳۰۳ زرو هکټارو په شاوخوا کې کرنیزه ځمکه به خړوبیږي او همدارنګه د ٦٥ مېګاواټه برښنا د تولید ظرفیت به ولري.

د شهروان او ارچي د اوبو لګولو کانالونو په بشپړېدو سره به د ۸۰ زرو هکټارو په شاوخوا کې کرنیزه ځمکه به خړوبه شي او ۳۰۰ زره کسان به ترې ګټه پورته کوي.

# په ننګرهار ولایت کې به د ۳ لویو بندونو تر څنګ د ٦٥ پروژو چارې پیل شي.

د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې لوئ رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل د مشرانو جرګې غړې، اغلې سناتورې مینه شیرزاد په شتون کې د خوګیانیو شورا رئیس او غړو سره په ننګرهار ولایت کې د اوبو مدیریت د پراختیایي پروژو په اړه وکتل.

د خوګیانیو شورا رئیس د هېواد د اوبو مدیریت په برخه کې د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې رهبری له هڅو ستاینه وکړه او د ننګرهار ولایت په خوګیانیو ولسوالی کې د اوبو مدیریت پراختیایي پروژو د تطبیق غوښتونکی شو.

د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل د خوګیانیو شورا رئیس ته په یاده سیمه کې د اوبو مدیریت د پراختیائي پروژو د تطبیق ډاډ ورکړ او وې ویل په



راتلوونکي پنځه کلونو کې به د ۳ لویو بندونو په ګډون به ٦٥ لوی او کوچنی پروژې په ننګرهار ولایت کې تطبیق شي.

ښاغلي تکل د پروژو د ښه کیفیت تر څنګ د خوګیانیو شورا رئیس څخه په یاده ولسوالی کې د پروژو د تطبیق او نظارت په برخه کې د همکاری غوښتنه وکړه.

# در ولایت لوگر برعلاوه ۳ بند، کار یک تعداد پروژه های دیگر نیز به زودی آغاز می گردد.

محترم انجنیر احمد ویس بصیری معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب در دفتر کاری خویش با محترم سید قریب سادات نماینده شورای ولایتی و شماری از بزرگان ولایت لوگر در مورد آغاز کار پروژه های انکشافی در آن ولایت دیدار کرد .

در این نشست بزرگان قومی ولایت لوگر از فعالیت‌ها و کارکردهای اداره ملی تنظیم امور آب در راستای تطبیق پروژه های انکشافی مدیریت آب، قدردانی نموده و در این مورد پیشنهادات و خواست‌های خویش را با معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب شریک ساخته و خواستار توجه بیشتر اداره را در رابطه به خواست‌ها و پیشنهادات شان گردیدند.

سپس انجنیر احمد ویس بصیری معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب به بزرگان قومی ولایت لوگر اطمینان داد، که در آن ولایت برعلاوه



اعمار بند های (خروار، چرخ و سرخ آب) کار پروژه های عام المنفعه دیگر نیز آغاز می‌گردد، که این پروژه ها در مدیریت آب، آبیاری زمین های زراعتی، کنترول سیلاب های موسمی و ایجاد زمینه اشتغال برای مردم شریف آن ولایت موثر و ارزشمند خواهد بود.

همچنان در این نشست در مورد پروژه تحکیمات باغ نات نیز صحبت شده و از تطبیق آن برای مردم لوگر اطمینان داده شد.

# پروژه اعمار کانال قزل اياق در ولایت جوزجان تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.



این پروژه از سوی اداره ملی تنظیم امور آب با همکاری مالی دفتر اکتید ACTED به منظور مدیریت آبهای سطحی و آبیاری زمین‌های زراعتی در ولسوالی خواجه دو کوه ولایت جوزجان تطبیق شده است.

با تطبیق این پروژه حدود ۱٤۰۰ هکتار زمین زراعتی تحت پوشش آبیاری قرار گرفته و به تعداد ۵۳۰ فامیل از آن مستفید می شوند.

# په جوزجان ولایت کې د سالتق کلان کانال چارې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شو.



دغه پروژه د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې لخوا د اکتید ACTED دفتر په مالي مرسته د ځمکې د سر اوبو د مدیریت او زراعتي ځمکو د خړوبولو په مقصد د جوزجان ولایت په خواجه دوه کوه ولسوالۍ کې تطبیق شوه.

د دې پروژې په تطبیق سره به په حدود د ۱۲٦۰ هکتاره زراعتي ځمکه خړوبه شي او په تعداد ٦۴۰ فامیلونه به له هغې ځخه ګټه پورته کوي.

# پروژه بخش چهارم سربند کانال ریگروان ولایت کاپیسا به زودی تکمیل میشود.



این پروژه از سوی اداره ملی تنظیم امور آب باهمکاری مالی فاز چهارم سازمان خوراک و زراعت ملل متحد (FAO) از طریق برنامه جایکای جاپان (GCP/AFG/096/JCA) به منظور مدیریت بهتر آب، افزایش زمین های زراعتی، رشد اقتصادی و اجتماعی و ایجاد زمینه اشتغال برای مردم در قریه های قلعه خواجه ولایت پروان و سخی خیل ولایت کاپیسا تطبیق می گردد.

در حال حاضر کار پروژه به خوبی جریان داشته و ۹۷ درصد پیش رفته است.

از کانال ریگروان به تعداد ۲۰٤۱۷ فامیل به صورت مستقیم و غیر مستقیم مستفید می شوند .

# د هریرود مرغاب سیندیزه لویه حوزه کې د غیر متمرکز ککړو اوبو (فاضلاب) تصفیه خونې جوړولو هوکړه لیک لاسلیک شو.




دغه هوکړه لیک چې د هریرود مرغاب سیندیزې لویې حوزې رئیس سید عمر اسحاق لخوا د غرب زون د اوبو رسولو او ښاري کانالیزسیون شرکت سره لاسلیک شوه، په پام کې ده چې له مخې به یې په پنځوسو دولتي ادارو کې تصفیه خونې جوړې شي.

د یادونې وړ ده چې تر اوسه پورې په پنځوسو دولتي ادارو کې د تصفیه خونو جوړولو سروې بشپړه شوې او په ۲۹ نورو ادارو کې یې د ډیزاین چارې نهایي شوې دي.

دغه تصفیه خونې د جمهوري ریاست عالي مقام د حکم مطابق چې د ځمکې لاندې اوبو د ککړتیا مخنیوي او د ځمکو خړبولو په موخه د تصفیه خونو اوبو څخه استفاده کول دي جوړیږي.

# پیرامون چگونگی و پیشرفت کاری سیستم ملی معلوماتی آب جلسه دایر گردید.






به تاریخ ۸ ثور جهت بررسی نوعیت کاری، نظارت از چگونگی پیشرف سیستم معلوماتی منابع آب و ارزیابی از اجراات چهار ماه گذشته پروژه ANWIS جلسه آنلاین تحت رهبری انجنیر احمد ویس بصیری معین تخنیکی اداره ملی تنظیم امورآب با اشتراک انجنیر فایزالرحمن عزیزی ریس عمومی منابع آب، داکتر وحید شهریار سرتیم پروژه ANWIS ، متخصصین و مشاورین داخلی و بیرونی دایر گردید.

درین جلسه پریزینتیشن های جداگانه توسط داکتر وحید سرتیم برنامه و آقای پیتر متخصص ارشد سیستم سازی پیرامون نوعیت کاری و فعالیت های انجام شده بصورت مفصل ارایه گردید.

انجنیر احمد ویس بصیری ضمن تشکری و قدردانی از همکاری های تخنیکی کشور آسترالیا فعالیت های انجام شده را مثبت و مناسب ارزیابی نموده و به اهمیت سیستم ملی معلوماتی آب منحیث اولویت اساسی مدیریت آب کشور اشاره نموده به هماهنگی بیشتر با سایر نهادهای ملی و بین المللی تاکید نمود.

ضمناً مسولین و متخصصین دو طرف، جهت غنامندی و انکشاف پایدار سیستم ملی معلوماتی منابع آب تبادل نظر نموده و به پلان های بعدی تصامیم اتخاذ گردید.

# جلسه هماهنگی در مورد پلان های آینده و تطبیق پروژه های مدیریت آب با مسئولین بانک انکشاف آسیایی برگزار شد.



محترم انجنیر خان محمد تکل رئیس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب در یک جلسه آنلاین در حالیکه انجنیر سید مقیم سادات رئیس دفتر مرکزی مدیریت برنامه ها نیز اشتراک داشتند، با مسوولین بانک انکشاف آسیایی در مورد تطبیق پروژه های انکشافی مدیریت آب در کشور و پلان های انکشافی این بانک از سال ۲۰۲۱ الی ۲۰۲٤ به صورت همه جانبه بحث و تبادل نظر نمودند.

در این نشست که ادارات مختلف ( اداره ملی تنظیم امور آب، وزارت صحت عامه، وزارت زراعت، وزارت انکشاف دهات، وزارت ترانسپورت، اداره خط آهن...) اشتراک داشتند، در مورد پلان های کاری ADB از سال ۲۰۲۱ تا ۲۰۲٤ به صورت همه جانبه بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

مقام رهبری اداره ملی تنظیم امور آب از مسئولین بانک انکشاف آسیایی در قسمت تقویت منابع آبهای زیرزمینی، پایپ لاین آبرسانی پنجشیر - کابل و تطبیق یک تعداد پروژه‌های دیگر همکاری آنها را خواستار شدند. که این خواست اداره ملی تنظیم امور آب با در نظرداشت بعضی شرایط از سوی مسئولین بانک انکشاف آسیایی پذیرفته شده و در این بخش از انجام همکاری همه جانبه اطمینان داده شد.

در این نشست یکی از مباحث مهم این بود که بانک انکشاف آسیایی و وزارت مالیه گفتند: «هر اداره که امورات و کارهای خویش را به کیفیت خوب و وقت مناسب آن به انجام رسانده است بودجه همکاری آینده نیز به آن اداره داده می شود.» خوشبختانه رهبری اداره ملی تنظیم امور آب توانسته بود در تطبیق پروژه های قبلی رول خوبی را بازی نموده و پروژه ها را به کیفیت خوب در وقت معین آن تطبیق نمایند.

قابل یادآوری است که تا کنون بانک انکشاف آسیا (ADB) حدود ۷۰۰ میلیون دالر آمریکایی را با اداره ملی تنظیم امور آب کمک نموده و از همکاری های بیشتر در آینده نیز به این اداره اطمینان داده است. رهبری اداره ملی تنظیم امور آب از همکاری های همه جانبه و دوامدار بانک انکشاف آسیا صمیمانه اظهار تشکری نموده و آرزومند همکاری های بیشتر در بخش های انکشافی مدیریت آب میباشند.

# د اوبو چارو د تنظیم په ملي اداره کې د ۱۴۰۰ مالي کال د بودیجې وسطي بیا کتنې جلسه ترسره شوه.



دا جلسه د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې د مالي او اداري لوی رئیس ښاغلي احمد رشاد حکیم تر رهبرۍ لاندې د مالي او اداري رئیس په شمول د عمومي او فرعي سیندیزو حوزو رئیسانو په ګډون د هیواد په ټولو۳۴ ولایتونو کې د ۱۴۰۰ مالي کال دوسطي بودیجې د بیا کتنې، د کاري مسیر ټاکلو، د مشکلاتو پیژندلو او د هغو د حل لارې پیدا کول په پار را بلل شوې وه.

په دې جلسه کې د عمومي او فرعي حوزو رئیسانو د روان مالي کال له شروع څخه د ثور تر ۱۵مې نیټې پورې خپل د بودیجې مصرف راپور وړاندې کړ.

ښاغلي احمد رشاد حکیم د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې مالي او اداري عمومي رئیس د بودیجې د مصرف راپور او د سیندیزو حوزو د پلانونو بیا کتنې ترڅنګ د چارو د غوراوي لپاره لازمي لارښوونې هم وکړې.

ښاغلي حکیم په سیندیزو حوزو کې د شته مشکلاتو او ننګونو د حل په موخه د عملي تګلارو وړاندې کولو ترڅنګ په مالي، اداري او تخنیکي برخه کې د چارو په غوره والي ټینګار وکړ.

# د WFP سازمان سره د همغږۍ ناسته تر سره شوه.



د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې تخنیکي مرستیال انجنیر احمد ویس بصیري په خپل کاري دفتر کې د خوړو نړیوال سازمان د دفتر مسؤلې مېرمن ماري ایلین سره ناسته وکړه.

په دغه ناسته کې د دواړو ادارو په ښې همغږۍ، د اوبو منابعو څخه غوره استفادې، د WFP د اوبو برخې د پلاني پروژو نوملړ د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې سره شریکول، د وچکالۍ پر وړاندې ګډه مبارزه او یو شمېر نورو مسائیلو باندې خبرې او ګډ بحث وشو.

په دغه ناسته کې د خوړو نړیوال سازمان (WFP) مسؤلې مېرمن ماري ایلین په افغانستان کې د اوبو مدیریت پراختیایي پروژو د تطبیق په برخه کې د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې د کړنو او فعالیتونو ستاینه وکړه او په دغه برخه کې یې د یاد سازمان په استازیتوب د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه.

هغې زیاته کړه د خوړو نړیوال سازمان د اوبو په برخه کې هم فعالیت کوي چې په دغه برخه کې یې څو پروژې تطبیق کړې دي.

د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې تخنیکي مرستیال ښاغلي انجنیر احمد ویس بصیري د WFP له همکاریو مننه وکړه او زیاته یې کړه د اوبو مدیریت نوي قانون ته په کتو د افغانستان د اوبو مدیریت بشپړ مسؤلیت د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې په غاړه دی او په دغه برخه کې د خوړو سازمان د مرستو او همکارۍ هرکلی کوي.

ښاغلي بصیري زیاته کړه د اوبو چارو د تنظیم ملي اداره کولی شي د نورو هېوادونو په څېر د اوبو په برخه کې د WFP له مرستو څخه غوره استفاده وکړي او د دې تر څنګ به په نږدې راتلوونکي کې د اوبو چارو د تنظیم ملي ادارې او د خوړو نړیوال سازمان (WFP) تر منځ د ګډې همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شي.

# دیدار به منظور هماهنگی جهت تطبیق طرح پروژه های داکتر ناکامورا در سایر ولایات کشور.



محترم انجنیر احمد ویس بصیری معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب در دفتر کاری خویش با آقای راجندرا آریال رئیس سازمان خوراکه و زراعت ملل متحد FAO در افغانستان دیدار نموده در مورد همکاری های مشترک پیرامون تطبیق میتود پروژه تطبیق طرح داکتر ناکامورا در ولایت های مختلف کشور صحبت نمودند.

آقای بصیری در این دیدار از همکاری‌های همیشگی FAO در راستای تطبیق پروژه های انکشافی مدیریت منابع آب اظهار قدردانی نموده به تداوم این همکاری ها به ویژه در قسمت هماهنگی در جهت تطبیق پروژه های طرح داکتر ناکامورا، که با همکاری موسسه جایکا در افغانستان اجرا می گردد، تاکید نمود.

در همین حال آقای آریال از انجام همکاری در راستای مدیریت منابع آب افغانستان به ویژه در قسمت ترتیب پروپوزل تطبیق میتود پروژه تطبیق طرح داکتر ناکامورا، ظرفیت سازی، اولویت بندی پروژه‌ها و سایر همکاری های تخنیکی، به معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب اطمینان دادند.

# جلسه هماهنگی در مورد حل مشکلات استملاک و تصفیه پروژه‌های اداره ملی تنظیم امور آب با وزارت شهرسازی واراضی برگزار گردید.



محترم انجنیر خان محمد تکل رئیس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب در رابطه به پروژه‌های اداره ملی تنظیم امور آب به ویژه در راستای مشکلات استملاک و تصفیه بندهای بزرگ با محترم گل الرحمن توتاخیل معین وزارت شهرسازی و اراضی دیدار نموده و هر دو جانب در ارتباط به موضوع متذکره بحث و تبادل نظر نمودند.

در نخست رئیس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب از همکاری های وزارت شهرسازی و اراضی در بخش استملاک پروژه‌های بزرگ اظهار تشکری نموده و همچنان از معینیت زمینداری خواست تا در قسمت پرداخت خسارات بدیل زمین‌ها، خانه‌ها و زراعت متضررین بند شاه و عروس توجه نمایند، تا هرچه زودتر کار پاک کاری کاسه بند آغاز شده و بند متذکره به بهره برداری سپرده شود.

سپس محترم گل‌الرحمن توتاخیل معین وزارت شهرسازی واراضی به بخش های مربوطه آن وزارت هدایت داد که هرچه زود تر در مورد پرداخت خسارات بدیل زمین‌ها، خانه‌ها و زراعت متضررین بند شاه و عروس توجه نموده موضوع متذکره را بررسی نمایند. همچنان محترم انجنیر خان محمد تکل از وزارت شهرسازی واراضی خواست که موضوعات استملاک فاز دوم بند کجکی و تصفیه استملاک ۱۰ هزار هکتار زمین کانال نهر سراج هرچه زود تر آغاز گردد و همچنان موضوعات استملاک بند دهله کندهار و بند شاه‌توت للندر کابل هرچه زود تر حل شود تا کار این بندهای بزرگ آغاز گردد .

در اخیر هر دو جانب به هماهنگی بیشتر جهت تسریع امور تاکید نموده و در این بخش از همکاری های اثر بخش والیان ولایت های متذکره یاد نموده فیصله به عمل آمد تا در مورد موضوعات استملاک پروژه‌ها با ادارات ولایتی به صورت مشترک کار شوند.

# د ځمکې لاندې اوبو سرچينو د پروژو ډيټابېس، د نقشو جوړولو اپډيټ او د ځمکې لاندې اوبو معلوماتي سيسټم په موخه د همغږۍ جلسه د FAO سازمان سره تر سره شوه.



دغه جلسه د اوبو چارو د تنظيم ملي اداري او د FAO سازمان تخنيکي مسؤلينو د هېواد د ځمکې لاندې اوبو د ډيټابېس تنظيم، د نقشو ابډيټ او د ځمکې لاندې اوبو د اطلاعاتي سيسټم را منځته کولو لپاره چې موخه ترې د ځمکې لاندې اوبو اطلاعاتو ته د انټرنيټ له لارې د غوښتونکو لاسرسی دی، د اوبو چارو د تنظيم ملي اداره کې تر سره شوه.

په دغې ناسته کې د FAO متخصيصينو لخوا د ځمکې لاندې اوبو سرچينو د پروژو ډيټابېس په اړه د اجراآتو راپور وړاندې شو، او د هېواد په حوزو کې د ځمکې لاندې اوبو سرچينو د هر اړخيز مديريت او پراختيا په اړه بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

# د شاه و عروس بند ساختماني چارې بشپړې او ژر به يې د اوبو ذخيره کولو پروسه پيل شي.



د اوبو چارو د تنظیم ملي اداري تخنیکي مرستیال انجنیر احمد ویس بصیري په داسې حال کې چې د کابل والي محمد یعقوب حیدري، د کابل سیندیزې حوزې عمومي رئیسې انجنیر فومن فروغ او د کابل سیندیزې فرعي حوزې رئیس انجنیر انور ذهین یې ملتیا کوله د شاه و عروس بند د چارو له جریان څخه لیدنه وکړه.

ښاغلي بصیري په خپلو خبرو کې د شاه و عروس د میدانک سیمې خلکو ته ډاډ ورکړ، چې د دغې پروژې د استملاک تصفیه حساب پیسې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې لخوا تصویب شوې چې په نږدې راتلوونکي کې به زیانمنو باندې ووېشل شي.

همدارنګه ښاغلي بصیري وویل چې د شاه و عروس بند ساختماني چارې بشپړې شوي چې په نږدې راتلوونکي کې به یې د اوبو ذخیره کول پیل شي، هغه زیاته کړه هر څومره چې ژر کیږي د سیمې خلک دې ساحه پاک کاري او دغه سیمه پریږدي.

د یادونې وړ ده چې شاه و عروس بند د اوبو چارو د تنظیم ملي اداري یو له سترو پروژو څخه دی، چې د ۱.۲ مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري، چې د ۲۷۰۰ هکټاره کرنیزه ځمکه خړوبوي او ۹ میلیونه متر مکعب اوبو د ذخیره کولو وړتیا لري.

# معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب با ولسوال و مردم شکردره در مورد استملاک بند شاه و عروس دیدار و گفتگو نمود.



محترم انجنیر احمد ویس بصیری معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب با گوهر خان بابری ولسوال شکردره و جمع زیادی از بزرگان مردم (اقوام) آن ولسوالی دیدار نموده و در ارتباط به حل موضوع استملاک بند شاه و عروس بحث و تبادل نظر نمودند.

در این دیدار ولسوال و شماری از بزرگان شکردره پیشنهادات شان را با معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب شریک نموده و خواستار توجه بیشتری مقام رهبری این اداره در راستای جبران خساره متضررین (استملاک) بند شاه و عروس شدند.

محترم انجنیر احمد ویس بصیری معاون تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب به مردم شکردره اطمینان داد که موضوع استملاک بند شاه عروس به زودی از سوی کابینه جمهوری اسلامی افغانستان فیصله شده و جبران خساره برای متضررین از سوی حکومت پرداخته خواهند شد.

همچنان آقای بصیری ضمن یادآوری و توضحات اهمیت اقتصادی و محیطی بند شاه و عروس در سطح منطقه و به خصوص برای مردم شریف شکردره، از آنها خواهان همکاری های بیشتر شدند.

# د خوست ولایت ځوانانو سره د اوبو مدیریت پراختیایي پروژو په اړه ناسته.



د اوبو چارو د تنظیم ملي اداري لوی رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل په خپل کاري دفتر کې د خوست ولایت ځوانانو سره په دغه ولایت کې پراختیایي پروژو د تطبیق او په دغه برخه کې د ولس پر رول او همکارۍ بحث او د نظرونو تبادله وکړه.
په دغه ناسته کې د خوست ولایت ځوانانو د هیواد د اوبو مدیریت په برخه کې د اوبو چارو د تنظیم ملي اداري رهبری له کړنو او هڅو ستاینه وکړه او په یاد ولایت کې یې د اوبو مدیریت پراختیایي پروژو د تطبیق څخه د بشپړ ملاتړ ډاډ ورکړ.
د اوبو چارو د تنظیم ملي اداري لوی رئیس ښاغلي انجنیر خان محمد تکل د خوست ځوانانو ته په دغه ولایت کې د اوبو مدیریت پراختیاي پروژو د تطبیق ډاډ ورکړ او وې ویل په روان کال کې به په خوست ولایت کې د (دوه منده بند) تر څنګ د یو شمیر نورو پراختیایي پروژو د جوړولو قراردادونه لاسلیک شي او عملا به یې چارې پیل شي.
ښاغلي تکل د پروژو د ښه کیفیت په موخه د خوست ولایت ځوانانو څخه وغوښتل تر څو د پروژو د تطبیق او نظارت په برخه کې د اوبو چارو د تنظیم ملي اداري تخنیکي او کاري ټیمونو سره همکار واوسي.
د یادونې وړ ده چې په تېر کال کې د خوست ولایت په مختلفو ولسوالیو کې د اوبو چارو د تنظیم ملي اداري لخوا د اوبو مدیریت څو پروژې تطبیق او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

# په بغلان ولایت کې د اجمیر کانال د پاکولو چارې ګړندۍ رواني دي.



اجمیر کانال ۲۶ کیلومتره اوږدوالی لري، چې په پاکولو سره به یې ۱۸۰۰ هکتاره ځمکه خړوبه او د بند توربین د ۹ میګاواټو په ظرفیت سره ښرته فعاله شي.
همدا راز په دې پروژه کې ٦ د کنټرول دروازې او د ۳۵ متره په اوږدوالي سره اوسپنیز کانکریټي دېوال هم جوړیږي. د دغه کانال ودانیزې چارې د اوبو چارو د تنظیم ملي اداري په مالي لګښت او د ملي پراختیا شرکت د هلمند ودانیز شرکت لخوا پرمخ وړل کیږي.

**صاحب امتیاز: اداره ملی تنظیم امور آب**
**مدیر مسوول:** خواجه فقیر محمد "صدیقی"
**معاون مدیر مسوول:** نسرین "محمدی"
**ادیتور:**
زهره "رحمان دوست، عبدالولی "نبی زاده" و مسیح الله "سالارزی
**تحت نظر هیات تحریر:**
انجنیر همت الله "امین زی"
اسدالله "زیرک"
انجنیر میرویس "میرزاد"
سید عطاالله "صدیقی"
برکت الله "آریوبی"
نظام "خپلواک"
**گزارشگران:**
عصمت الله " اخلاقی، محمد مقیم "ستانکزی " و محمد انور "بارکزی"
**عکاس:** زهرا حیدری و امیدالله "رحمانی"
**آدرس:** سرک عمومی دارالامان
**ایمیل آدرس:** chiefofstaff.nwara1398@gmail.com
**شماره تیلفون:** 0202522472
0787563333
**خوانندگان گرامی:**
**جهت دریافت سافت مجله و ماهنامه اداره ملی تنظیم امور آب، می توانید به وبسایت این اداره مراجعه فرمایید.**